څواکي

مجاور احمد زیار

مجاور احمد زيار

څڅواکي

(لسم شعري غونډ)

PROPERTY OF ACKU 6101

مرغومی، ۱۳۷۲

تا ته مې ويلي

او همتا ته مې ډالۍ کړې دي ؛

د کتاب نوم : ځځواکي

ويناوال : پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

خپرندوی : د علامه سيد جمال الدين افغان فرهنگي ټولنه

گڼه : ۵

کمپوزر : سيد حسين هاشمي

چاپ شمير : ۵۰۰ ټوکه

چاپځای :

نيټه : مرغومی، ۱۳۷۲ / جنوری، ۱۹۹۴

نیولیک

سرلیک	مخکنه
د خدای استازي ته	۱
پیل و پای	۳
ستا خوښه	۵
د مینې لمبې	۷
د مینې پوهنځی	۹
د مینې پسرلی	۱۱
د ... یاد	۱۳
ستا تصویر	۱۵
کربلا	۱٦
د کبلیو هوکلي	۱۸
ازلي مینه	۲۰
ما مه هیروه	۲۲
مینه ورې ننداره	۲٤
د مینې پوهنتون	۲٦
د شاعر امید	۲۸
مینه	۳۰
تړون	۳۲
تیر ساعت	۳٤
وروستې کاته	۳۷
ستا د مینې لار کې	۳۹
د اوښکو شاهد	٤۱
پته مشغولا	٤۳
د زړونو دنیا	٤٥
مروه اشنا !	٤۷
بې نامه لیک	٤۹
د زړه سترګې	٥۱
منم منم	٥۳
د اوښکو ارزانې	٥٥

سرلیک	مخګنه
د میني اور	٥٦
د اوښکو ساحل	٥٧
د خیال خوب	٥٨
دمیني سوال	٦١
د میني انتظار	٦٣
رنګینه ادا	٦٤
د میني درد	٦٦
د میني زبات	٦٧
میني هیلې	٦٩
رسوایي	٧١
سترګې پر لار	٧٢
د اشنا په سترګو	٧٣
د میني میکده	٧٥
د هیلو مزار	٧٦
اورین عشق	٧٧
تیرې خاطرې	٧٩
د محفل شمعه	٨١
ناکامه مینه	٨٣
د چا یاد	٨٤
سوز و ساز	٨٦
رنګین تصور	٨٨
د هیلو قافلې	٩٠
د افغان په نوم	٩١
منصوري مینه	٩٤
د عرفان د میني مې	٩٦
د لاهور هور	٩٨
ستا غم	٩٩
ګلباران	١٠١
د شپو لپړد	١٠٣
ستورین وږي	١٠٥

یادښت

دغه غزلغونډ د دوو مخنیو هڅو (ګلکځونو او ګلوپیونو) غونډې بیا هم په هماغو تش په نامه غزلګوټو پیل مومي چې زما د ځلمیني په هماغه لومړني « تمرینـي » پېر اړه لري چې د زمانې له اړو دوړه نوي لاسته راغلي دي . او لکه څنګه مې چې‌د مخني غونډ په یادښت کې هم نغوته کړې ده ، ماته هماغه ساده « مشقونه » تر اوسنیو دغو ډېر ګرانښت او ارزښت لري او له همدې کبله چې هرځومره را بوسیږه کیږي ، په هماغه نیټه لیك (کرونولوجیك) ډول یې د هر غزلغونډ په سر کې راوړم او ورپسې نوي هڅه لړۍ کوم ، تر دې چې دا ځل یې تر دویمې برخې انډول هم زیاتوالی موندلی دی . په راتلونکې کې هم ښایې دغه لړۍ پسې اوږدوالی ومومي او همدغه لاره او روده به که ژوند و ، د ټولنیزو شعرونو (بوللو ، ترانو ...) په برخه کې هم غوره کړ شي .

په اوسني غونډ کې د وخت له نورو شاعرانو سره د مشاعرې او په تیره بیا د « ګډې نړۍ » بیلګې هم را خوندي شوي چې لومړی نوم یې « شړیکه دنیا » وه او پـه مخنیو دوو کلو کـې یـې یوازې پـه مـا ، (ممنون) او (فنا) اړه درلوده او راوروسته راسره یکې (حافظ) او (سیلاب) هم برخه اخیستې وه (زیار) .

بسم الله الرحمن الرحیم

د خدای استازي ته

شولی مبعوث په رسالت چی له سبحانه نبی
جهان روسانه کړ یوځل تا له رڼا نه نبی
هغه شیبه چی د نری په لوری راغللی ته
وختی دوری له قصرونو د کسرٰی نه نبی

ته هغه دوست يې د الله چې له مكې شوې روان
رپ كې د سترګو له اقصىٰ نه تر اسمانه نبي
خول كه ځليږي د لولاك پاس پر تندي باندې ستا
فخر د فقر را نصيب شو هم له تا نه نبي
ګرد جهالت و شقاوت پر سعادت شو بدل
په ټول جهان كې دغه ستا له اقتدا نه نبي
خوره رڼا شوه د اسلام پر هوې لورې له تا
په څو كلو كې بشريت دې كړ روښانه نبي
شا و ګدا درته ولاړ په درناوي تر اوسه
څه كه ته ولاړې ژر تر ژره له جهانه نبي
نوره سپرغۍ د لا احصىٰ بندوي ژبه زما
په د ژوندون پر لويه لار انت هدانا نبي
هيلې زارۍ كاندې پر وره ستا مجاور احمده (ص) ،
شفاعت وكړې د ګناه يې له الله نه نبي !

د ۱۳۳۸ لمريز كال ميلادالنبی

پیل و پای

چې د زړه له سر درومې آ شاهین ولاړ
څه به وایم سر تر پای د زړه تسکین ولاړ
د زړه کور مې نه شو تش له غم د مینې
پسې راغی بل ناورین ، که یو ناورین ولاړ

بې له مينې مې هرڅه له لاسه ورکړل
هم مې دين هم مې دنيا او هم سا دين ولاړ
ځلميتوب مه کړ واری له پيغلتوبه
هم مې اندو هم مې ژوند پر اباسين ولاړ
بادول راته پر سر د خاورو بويه
چې له خوا مې ښايسته ښکلی نازنين ولاړ
رمبوسی چې بڅرام کې ورته پر شو
په زړه داغ لکه غاټول ترچين ماچين ولاړ
ابد ي لکه فرهاد او يا مجنون شي
له جهان چې څوك په مينه کې رښتين ولار
نور به څه کړم پسرلي د ښايست زياره ،
د خوان له لاس مې زمول چې گلورين ولاړ !

پسرلی ، ۳۸

ستا خوښه

ښه شو چلا شومه له تا زړگیه
شوم ستا له غم سره اشنا زړگیه
دا و لمسون د لیونی مبني مې
چې شوم دیره سر په سارا زړگیه

نه پوهیدم ستا د وفا په ارزښت
بسیا شوم اوس ستا پر جفا زړګیه
نور دي هر قار منت منم په لیمو
رتې ښرې سې خوښه ستا زړګیه
که سبه دي کیږي په وژلو زما
ستا پر رضا زما رضا زړګیه
چې نه راځي په تصور کې زما
دومره یې ګرانه ته پر ما زړګیه
څه که موده د بیلتانه زیاته شوه
کله له یاد وځې زما زړګیه
ستا د لیدن قدر به هیر نه کړمه
ووینم تا که یوځل بیا زړګیه

دا ستا له وره چې نا امیده تللی ،
زیار کړي تر اوسه لا ژړا زړګیه !

— لړم ، ۳۸

د مينې لمبې

چې راښکاره شي ، دلبر مې سېزي
تر سترګو لاندې ، نظر مې سېزي
ګله يو له بله ، نازو ادا کا
لا چې حيا کا ، ځيګر مې سېزي

تکې سرې شونډې ، چې يې موسکی شي
ته وا په اور و ، شرر مې سيزي
پر مخ چې راشي ، ورکتای نه شم
الوتای نه شم ، وزر مې سيزي
راته چې ځير شي ، په مينه مينه
تت مې نظر شي ، بصر مې سيزي .
ما په ژوندونې ، په دې دنيا کې
جوړ له فرقته ، سقر مې سيزي
د اننګيو ، بلې لمبې يې
لکه سپند په ، مجمر مې سيزي
مخ يې سپين لمر دی ، ځکه بې سپوږمۍ ده
چې لمر پنا شي ، قمر مې سيزي
نه کوي سيوری ، پر ما د لور
بس د ظلمونو ، په لمر مې سيزي
ژاړمه ځکه ، په ځير د شمې
اشنا پر شام و سحر مې سيزي
ورته به څه وايم ، کوم ځای مې وسوه
له پښو نيولې ، تر سر مې سيزي
اخر دوستانو ، تاسې انصاف مو
چې زه خليل يم ، آذر مې سيزي ؟

قلم له سوزه ، نور په فرياد شو :
بس کړه په زياره ، دفتر مې سيزي !

کب ، ۳۸

د مینې پوهنځی

تاسره به پټ یم د یارۍ په نوم
ځان سره کړه ما د نوکرۍ په نوم

لکه د یوسف او زلیخا په شان
وي به نوکري او بادارۍ په نوم

دربه شمه ستا د کور درگا لره
ویه کړم دیدن د فقیرۍ په نوم

ویه کړم طواف ستا د زیارت یاره
ستا د ښکلي مخ مجاورۍ په نوم

حال مي ستا د مینې بې مبا ووی
دار له شم روان د منصورۍ په نوم

څومره افتخار به زما هله وي
مړ چې شم د عشق رضا کارۍ په نوم

مینه دې پوهنځی د ادب شولو ،
شومه چې نو مړ د شاعرۍ په نوم !

کب ، ۳۸

د مينې پسرلی

شه مبارك دې ، په زړگيه ، نوبهار د ژوندون
شين و زرغون ، سمسور ښيرازدې شه گلزارد ژوندون
بيا په گلبڼ كې گلغوټۍ تازه گلونه سپړي
ماته غونچې غونچې گلان راوړه يادگار د ژوندون

زه نور گلان د پسرلي ، پر گلستان څه کوم
ستا د موسکا د سپرلي گل مې دي اثار د ژوندون
د سرو بارخوا و تورو زلفو دې مخی نه وينم
خوشې پينبې کړي ، گل سنبل ستا د نگار د ژوندون
بې مينې نه شي هيڅ يو کار د ژوندانه سميدای
مينه لارښود ، مينه ده لار د ژوندون
بس دي ترېکی ستا د پيغلو ارزوگانو راته
دا به مې روغ کاندې ناسور سوی پرهار د ژوندون
ځار دې له هسې مينه وړو ارمانونو شمه
چې پکې نغښتي دي زما واړه اسرار د ژوندون
که اسره نه وای د زرغا ستا د ځوانۍ د سپرلي ،
کړی به نه وای اسره هيله نوره زيار د ژوندون!

وری ، ۳۹

د ... یاد

بیا مې زړه کې د ارزو ماته رینه شوه
چې را یاده وفاداره ... شوه

په هوس د تورو زلفو د لیدلو
تور سکاره لکه د مشکو مې سینه شوه

دا د چا له لاسه وژاړمه خدایه
د خواږه جانان لیدنه پسینه شوه

طاقت وسو بیقرار لکه سپند شوم
حوصله نوره پلیٔ لکه نینه شوه

په ارمان شو د دیدن زړګی سوری مې
جوړه اوښکو نه مې مخ باندې چینه شوه

بې له درده د جانان مې آرام نه شي
پاتې مانه څکه نوره مزینه شوه

دغه حال ولیکه زیار د زړه په وینو ،
چې پر لاس یې د غزلو سفینه شوه!

غبرګولی ، ۳۹

ستا تصویر

شول اسان راته د شونډو ښکلول ستا
په چل ول چې تصویر راغی په منګول ستا
ستا په مستو نشو سترګو کې څه وینم
هسې نه دي دا څیر څیر حیران کتل ستا
راته ښکاري دومره فرق دې له تصویره
ته قهریږې تصویر نه کا قهریدل ستا
پر بیروح ولاړ تصویر مې ستا قسم دی
ستا له هجره یم پریشان لکه کاکل ستا

زیار نیولی تش یو نقش د کاغذ زړه ته ،
که دي ګران ماته په خوا پورې نیول ستا !

چونګابښ ، ۳۹

کربلا

خوله کې د چا که د بریښنا ، په شان خندا جوړه شي
سم یې د اوښکو له باران ، ځنی ژړا جوړه شي
نشته په ختهٔ د دنیا کې ، تل ښادي ، بیغمي
غم و ښادي شي سره ګډ ، نو بیا دنیا جوړه شي

لا د خوښیو تر درشله ، رسیدلی نه وي
چې پر متاع د عیش و نوش یې ، بیا تالا جوړ شي
راشي سیلۍ د تباهۍ ، له کومې خوا ورباندې
د نیستۍ خاورو ته یې لړه ، پر هوا جوړه شي
د زخمي زړو د ناسور ، بیا رغیدل شي مشکل
اغیز پرې نه کا ، که هرڅو ورته دوا جوړه شي
رسي بیا هم له یو انسانه بل انسان لوه تل
د ځا چې کوز کې د ظالم له لاس غوغا جوړه شي
حس چې را ویښ د استبداد شي په بشر کې کله
وینې بهیږي بیګناه ، نو « کربلا » جوړه شي
څو وي نړۍ یو به تیری او بل فریاد کړي زیاره ،
ګوندې دې چار ته محکه د یو الله جوړه شي !

۱۳ - ٤ - ۳۹

له خليل زي سره :

د کبليو هرکلی

(خ) د پنجشیرد سیند پرغاړه ، مستو زرکو اتڼ جوړ کړ
خوشبويي ناڅاپه راغله ، چې دا کومې ختن جوړ کړ

(ز) دا کبلۍ له کومې راغلې ، د ګلکڅ پر ګلیون هسې
ترهيدلې پنډې پنډې ، پر بيديا يې مسکن جوړ کړ

(خ) دومره مستي وي له خياله ، پاروليې ولوليې يې
چا د حسن ننداري کړي ، ځينو دار و رسن جوړ کړ
(ز) له ډير خياله يې گلونه ، وربلو کي وو تومبلي
تا به وېل چې په چمن کې ، يې بل نوى چمن جوړ کړ
(خ) ډير په ناز يې ليدل او ، ورل يې زرونه په منگلو
د مين د مرگ لپاره يې ، د سکروټو خوگلن جوړ کړ
(ز) راخپرې يې توري زلفې ، کړې پرسپينو ليچو باندې
په سره بڼ کې يې د گلو ، د سنبلو گلشن جوړ کړ
(خ) څپو هم مستي شورو کړه ، زيروبم اواز شو پورته
هرڅه نوي شول له واره ، ځانته يې نوى وطن جوړ کړ
(ز) چې ليوال يې د ليدو وې ، د مين غمجنې سترگې
په سارا د بېلتانه کې ، يې څه شکلى ديدن جوړ کړ
خليل زى ناڅاپه راغى ، دې محفل ته‌راښکاره شو
د زړه سر چې يې ونه موند ، ده هم ځانته کفن جوړ کړ
زيار چې واستوه استازى ، د نظر پر هرې لورې ،
يار يې نه وڅکه ځانته ، ده هم ورن و مدفن جوړ کړ !

گلبهار ، ۱۷ - ٤ - ۳۹

ازلي مینه

يو دې سینو نوي غندل کړي دي
بل دې جامې شنې د بخمل کړې دي
ترو تازه سینګار دې نوی ښکاري
نازو نخرې دې پر وربل کړې دي

بې تا مې نه لګي بل څوك پر سترګو
ما چې د مينې ستا کجل کړي دي
ساده ښکلا دې بې سينګاره وسوم
پر ما دې دا کانې سل ځل کړي دي
ماتوې ولې خپلې کړې وعدې
هغه وعدې چې دې اول کړي دي
طبيبه بس کړه رغيدل مې نشته
ما خو ستا ډير هسې درمل کړي دي

خلاص به د يار له مينې نه شې زياره ،
چارې د مخه لا ازل کړي دي !

زمرى ، ۳۹

ما مه هيروه

« زما د هيلو ګله خپل بورا مه هيروه »
بڼو باندې ويښتلی نيمه خوا مه هيروه
کچکول غوندې مې سترګې کږې کړي ستا په لوري
منم چې شاليلا يې ځو ګدا مه هيروه

ارام دې را نه وړی په ساده پښتني حسن
د تورکو په سيالۍ کې ناز ادا مه هيروه
چې کمه نه شې چاته په قانون د دلبرۍ کې
کوه پرما ظلمونه او جفا مه هيروه
پام تا پورې ونه نښلي لمبه د خپل ښايست
د خپل ښايست زکات کې بينوا مه هيروه
پوهيږم چې شرميږې د مينې رسوايۍ نه
د رمز پټه دنيا کې ما رسوا مه هيروه
بدل کې د کتو دې که له مانه ژوندون اخلې
د مينې په بازار کې دا سودا مه هيروه
له حال که شم بې حاله چې را دې شمه خواله
ليدای نه شمه تا له ، حال زما مه هيروه
تړون دې چې له ما سره د مينې يوځل کړی
وعده د يارانې دې د پخوا مه هيروه

ځواني به درواري کړمه په پښو کې نازولې ،
له زړه سره خبرې ، مشغولا مه هيروه !

(د ممنون له خوا مشاعره)
زمری ، ۱۳۳۹

PROPERTY OF ACKU

مینه وړې ننداره

په کاږه نظر دې وسوم نن بیا
روغ د زړه پر سر دې وسوم نن بیا
زیړی لمر د مازدیګر په ډوبیدو و
د ښایست په لمر دې وسوم نن بیا

له مودو چې یې په هیله د لیدو وم
هغه سپین بشر دې وسوم نن بیا
ستا په خیال کې زنګیدم هسې پرکاله
ځنګه ناخبر دې وسوم نن بیا
تور ویښتان دې را خواره پر تندي باندې
د وربل دفتر دې وسوم نن بیا
سپیلني غوندې دې دود کړم نظر مات ته
چې د مخ مجمر دې وسوم نن بیا
نرو وروځو ، تورو سترګو سرو بارخو او
انارو تهر دې وسوم نن بیا
دا پر شونډو دې موسکا لوبې کولې
چې پر زړه ځیګر دې وسوم نن بیا
متې زیار له پتنګانو سره سیال شو ،
چې د عشق شرر دې وسوم نن بیا !

ملك اصغر ځلاري ، ۱۷ - ۵ - ۳۹

د مينې پوښتون

څنګه ، چيرې ولاړ شمه ، زړګيه ستا له دړ ځنې
زه که څمه زړه نه ځي ، له تا ښکلي دلبر ځنې
ودې ايستم ښکاري نور د ژوند ، له ښو او بدو نه
ووته ګولۍ مې ستا ، د مينې له تېر ځنې

ته زما د زړه سر يې ، او زړه مې دی هم تا سره
کله کیږي زړه زما ، له تا د زړګي سره ځنې
ګوره چې رغیږي تل ، د اور سوي په اور سره
روغ به نه شم بیرته زه ، بې ستا له شوخ نظر ځنې
زړه مې بیلتانه وسو ، او سترګې انتظار زما
پورته مې لمبه د مایوسۍ شوه له ځیګر ځنې
دا و لا د مینې پوهنتون کې ، لومړنی ټولګی ،
« زیار » که اوس رسوا شو او ، جهان شولو خبر ځنې !

وږی ، ۳۹

د شاعر امید

دا د غم روزگار به نور بدلون مومي
هجر پر دیدار به نور بدلون مومي
څو به وي ناخوالې اونادودې يې
خوى د مغرور يار به نور بدلون مومي

وبه چوي سپيدو غونډې د زړه پلې
تورتم پر سهار به نور بدلون مومي

اوښکی به خړوبې کړي ميرې ټولې
دښت پر لاله زار به نور بدلون مومي

وسوځي چې کوټ بنګال له زرو نه
سور آه پر انګار به نور بدلون مومي

ولاړ به شي رونق د لباسي حسن
تش مودو سينګار به نور بدلون مومي

څنګ ته به مې راشي مرور اشنا
رسم د ريبار به نور بدلون مومي

نه به وي ژمنو کې د ښکلو دروغ
قول بې پر کردار به نور بدلون مومي

نور به د بلبل سينه زخمي نه کړي
ګلو باندې خار به نور بدلون مومي

مى به وي ، ساقي به وي ، ستونه بيا
خور د خمار به نور بدلون مومي

ساز به شي د نوي ژوند آهنګ پکې
دا زاړه اشعار به نور بدلون مومي

سپين مخ به د حق ووينې زياره نور ،
تور د زلفو دار به نور بدلون مومي !

تله ، ۳۹۰

مینه

دا څومره خوږ دی جهان د مینې
کاندې صفت هم قرآن د مینی
چې سره نښتې پروې کائنات دي
همدا قوت دی کشان د مینې

شړي ساحل ته خلپل او ړکي
گوهر را کاږي څپان د مينې
د خام ضميرو پخلي لپاره
بلنده اور دی نيران د مينې
سوزوي واړه که مس گلټ دي
چاندي شي پاتې روښان د مينې
ثبات مه پوښته له بوالهوسه
دی د رښتينو نښان د مينې
پاك ضميرونه سپيڅلي زړونه
پرځای کوای شي پيمان د مينې
لباسي حسن نه قبلوي هم
کاغذي نه دي گلان د مينې

زيار يې مست کړی تشې وزمې دی ،
ورته حيران دي رندان د مينې !

٤ - ٧ - ٣٩
٥

تړون

تیر مازیګری د انتظار شو را پیدا شولې
بیرته په لیدو مې نابینا سترګې بینا شولې
څنګه مې ناپامه تر وره راغللې
وتریدې هسې پښه نیولې وارختا شولې
راوسته پر ما دې رڼا یې په یوه پړك سره
تیره مې له مخې په تیزۍ لکه برېښنا شولې
ولاړې خپل دربار لره له خپل نازو ادا سره
ځانلره ، له ځان سره د ځان په مشغولا شولې

خدایزده چې دې زړه کې څه راغلي وو
ولاړلې پنا شولې او بیا له کومې خوا شولې
غلې غلې راغللې ودریدې پټوني کې
هلته له کړکیو نه په سیل و تماشا شولې
مستې دې نشې د پیغلتوب هسې څپانده شوې
کله به پر مخ راغلې او کله به پر شا شولې
کله به شپیلکي او زمزمې وې ستا په شونډو کې
کله څانګې وانګې بیرته ما ته به پر ملا شولې
کله چې په تیر کې به مې ستا نظر په غلا ونیو
پټه به په سترګو کې له ما سره پخلا شولې
تاب به دې را نه وړ چې د سترګو جنګولو ته
بیرته به روانه او بیواکه په خندا شولې
تا به چې له شرم نه ، نه کتل خپل سیوري ته
نن هسې بې باکه او بې ډاره او بې ترا شولې
ځان نه دې بیځانه کړم ، ستا سترې کیدل نه وو
داسې شوخ و شنګه یوه مسته محبوبا شولې
نوره هم په زړه کې مې خوږه شوې چې نژدې راغلې
ډیره مینه وړې ، مینه ناکه تر پخوا شولې
ښه شوه چې پر ما دې ټوکې وشتې نخرې یادې کړې
ښکاري راته خدایزو چې په مینه کې رضا شولې
خیال، که خوب، که ویښه وه، ترون وشو د مینې مو ،
زه زیار دې مجنون شوم نور ، او ته راته لیلا شولې !

شیرشاه مینه ، ۲۶ - ۸ - ۳۹

تیر ساعت

ګرځیدې هغه باغچه کې مسته مسته
چې یې ته وې ښایسته ګل او ګل پوسته
لوبیدلې خدایزده تللې په کوم تال کې
محوه شوې وې د خپل حسن په خیال کې

په راتلو د خپل مین شولې شکمنه
وتریدې په توپ لاړې له چمنه
یو ساعت بیا د لیدلو انتظار کې
پړکیدمه د نینې په شان انګار کې
چې به کله د عشق اور په تراره کړې
له یو وته به دې دوې سترګې ښکاره کړې
سترګو رپ کې به پناه شوې هم پیدا شوې
یوه آن به مروره هم پخلا شوې
غلبلو د مینې راوستې درشل ته
د هجران لمبو سیزلې زړه تسل ته
سا نیولې راوتلې له درباره
څومره ښکلې بریښیدلې بې سینګاره
د ځوانۍ له جوشه هسې وې بیواکه
لوښ تهر ، وازې تنۍ لا راغلې بیباکه
د بلۍ د پاسه هسکه ودریدلې
کرشمې دې بیا شروع کړې غلې غلې
هر بانه دې بل فتنې او بل نخرې کړې
تورو وروځو دې هر خواته اشارې کړې
مازیګر و لمر دې مخ نه شرمنده و
په تسلیم او احترام کې پر سجده و
کانو بوټو ننداره ستا د ښکلا کړه
په نسیم دې د بهار زلفو نڅا کړه
د راز کیف دې په مستۍ راوړل ذوقونه
پارول دې په سینو کې مین زړونه

څو اوربل دې شپه خوره کړه په اسمان کې
جوړ پر ما باندې اور بل شو هغه آن کې
وسوم هسې مخه ښې ستا غندل غاړې
را پسې دې ور چې پورې کړ او ولاړې

تن مې راوړ ، روح مې پرېښود ، درنه راغلم ،
د غم بار مې په سر کېښود،درنه راغلم !

نوی ښار – لینډی، ۳۹

وروستي کاته

راځې مې خواته نه دلدارې ولې
له سمې لارې شوې بې لارې ولې
ستا او زما د زړونو لار یوه وه
له یوې لارې شوې دوه لارې ولې

نیولې ما لارې گودرې درته
سترگې پر لارې یمه نه ښکارې ولې
خوشې پر خوشې رانه ځان تولوې
تولې د مجونو کې سردارې ولې
که رسوایي وي خو په گله به وي
هسې له غیر غمازه داري ولې
کنځې که رټې مې شه مخ را سره
پر ماشومانو پیغام سپارې ولې
درویزه گر ستا د ښکلا شتمنې
ځي دې له کوره په نهارې ولې
څه غل خو نه یمه زه ستا د خولگۍ
چې په تلو تلو شم بیا مې څارې ولې
څه به کړي زیار ستا دا وروستي را کاته،
وژنې مې روغ په دا نگارې ولې ؟

۲۳ - ۹ - ۳۹

ستا د مینې لار کې

له میو ستا د مینې ، میخانې دې ډکې ډکې
دې میو نه د زړونو ، پیمانې دې ډکې ډکې
خپل سر ورکوي واړه ، څکه ستا د مینې لار کې
مخمورو ته د عشق دې ، جانانې دې ډکې ډکې

عالم دې که ليوال دی ، د ښکلا له يوې مخې
له ډرو دې د مينې ، خزانې دې ډکې ډکې
مين که پر ليلا باندې ، يوازې يو مجنون و
خو ستا له ليونو نه ، ويرانې دې ډکې ډکې
تيريږي له سرونو ، نه تيريږي له هڅونو
ښکيللو ته له خوند دې ، زولانې دې ډکې ډکې
په اور د بې لوريو ، داغلي مين زړونه
د وخت له ناکردو نه ، يارانې دې ډکې ډکې
د مينې دا نړۍ‌به ، شي پخشو له بنديزونو
له يون و اوښتونه ، زمانې دې ډکې ډکې
پر زملو گلغوټيو ، چې بيا راوړي بهارونه ،
له رنگ و بوی دې زياره ، ترانې دې ډکې ډکې !

۹ - ٦ - ۱۳۳۸

د اوښکو شاهد

ما يار ته پرهرونه د هجران راوړي دي
ځولۍمې د غمونو ارمغان راوړي دي
زمول شوي په چمن کې سپرلني ګلونه نور که
تنها کو نه د زړه مې ارغوان راوړي دي

د خپلې پاکې مینې ښوونځي نه مې نن بیا
پرچې پرچې د زړه د امتحان راوړي دي
کوکنې ښکلولې ما په یاد یې د بنو
لیلا ته مې یادونه د بیابان راوړي دي
له خپل دې کړېدلي زخمي زوبل سوي زړه
سپرغۍ مې په لمن کې د ارمان راوړي دي
د یار په بیلتانه کې مې شاهد د خپلو اوښکو
لانده خیشته ځاکونه د ګریوان راوړي دي
دا زیار نه کړ دیدار د یار ریبار باندې پیرزو ،
اسرې که یې پخپله تر جانان راوړي دي !

شیرعلیخان واتې ، ۵ - ۱۰ - ۳۹

پټه مشغولا

ټل د شینیلو کې چې کبلۍ په څریدو راشي
یا لکه غاټول چې د بیدیا په غوړیدو راشي
وږم د گلونو چې له پاڼو په څپو راشي
یا لکه ارم نه ښاپیرۍ په تماشو راشي
راغلې راښکاره شوې له نقاب څنې بهر ګلې
دګله له نازونو نازولې د زړه سر گلې . . .
راغلې هغه ځای ته د پخوا په شانې بیا راغلې
پیل دې کړې نخرې لکه ماشوم په تماشا راغلې .

ولاړې بې مجاله او ژر بیرته په نڅا راغلې
ښبنى دې جبین کې د وفا په ځلیدا راغلې
ښکارې ، شوې پخلا او له خپل هوډه لاس پر سر ګلې
ډکه له نازونو نازولې د زړه سر ګلې . . .
ستا هره ادا کې وې جذبې او سامانې د عشق
واړه کرشمې وې په رموز کې نښانې د عشق
مانه دې غوښتلې د زړه وینې پیمانې د عشق
ستا په پټه خوله باندې روانې ترانې د عشق
خدازو چې حلال دې کړم له وراڅو نظر ګلې
ډکه له نازونو نازولې د زړه سر ګلې . . .
هلته په لیمو کې چې سرې اوښکې انتظارې وې
هلته ارزوګانې چې ترورې وې بې وارې وې
هلته چې اسرې د زړګي دوه سترګې په لارې وې .
هلته چې هم تا پسې مې هیلې ناکارې وې
راغلې ودریدلې چې له ما واخلې خبر ګلې
ډکه له نازونو نازولې د زړه سر ګلې . . .
ما چې ننداره ستا د ښکلا کړله ولاړه وې
تا زما ، ما ستا چې تماشا کړله ولاړه وې
ما سره دې پټه مشغولا کړله ولاړه وې
ما دې په سپین مخ د ځان سودا کړله ولاړه وې
لاړې پر کوم لورې بیا له زړاره په سفر ګلې،
ډکه له نازونو نازولې د زړه سر ګلې !

نوی ښار ، ۱۳٤۰

د زړونو دنیا

هله شي ورکه ، سودا د زړونو
چې خبر واخلي ، لیلا د زړونو
د پټې مینې ، په اور کې وسول
خبر وانه خیست ، هیچا د زړونو

د مينې درد يې ، چې کښلی نه وي
آ زړونه نه کا ، پروا د زړونو
په تور تمو کې ، د ژوندون نښته
بې محبته ، رڼا د زړونو
خاندي هر غم ته ، په نوم د مينې
نښه د ژوند ده ، همدا د زړونو
هوسايي مومي ، په تش کتلو
بې دي نه نښته ، دوا د زړونو
هلته ارام وي ، چيرې چې ولاړ شي
بله شته کله ، ماوا د زړونو
لاس ځنې واخله ناصحه لرې !
چيرې وانه خلې ، ښيرا د زړونو
څاري چې ما تل ، هغه څارمه
ښکاري يوه ده ، دنيا د زړونو
ده د مينو ، نښه د وصل
رڼا د سترګو ، درزا د زړونو
بوزن چې پريوځي ، د زړونو تل ته
ليمو ته راشي ، حيا د زړونو

ويلوي زياره ، پولادي زړونه ،
تک سور انګار دی ؛ وينا د زړونو !

نوی ښار ، ۱۳۴۰

مروره اشنا!

په ژړا مې سترګې سرې شي ، چې په زړه مې وورېږي
ستا په سترګو مې قسم دی ؟ ډېره ډېره مې يادېږي

که له زړه نه دې بهر کړم ، راته کسې شې د سترګو
چوروبور په سترګوړوند شم ، يوساعت چه ته بيليږي

ستا ترخې ترخې خبرې ، دي خوږې خاطرې ماته
ستا خاطر خو پرما گران دی ، ته په ماکه نه لوریږې

دي اساني ماته وارې ، ستا په مینه کې کرواړې
هله مرگ ته سترگې واوړي ، چې له ما مروریږې

ازمیه مې زړگی مه نور ، ماتوه مې زړگی مه نور
ډیر دې هجر نری کړی ، لا به څو ورته گواښیږې

ما ویل چې په رښتیا شولې ، له ما څنې ته لرې
نوره هم لا نژدې کیږې ، څومره ته چې لرې کیږې

لیونۍ مینې دې زیارتبیا درگاه لره راوستی ،
مرگ او ژوندیې دي پرلاس ستاپه هرڅه که ته خوښیږې !

غوږۍ ، ۱۳٤۰

بې نامه لیک

سوزو ولولې زړګیه ، ستا له بیلتانه لیکم
تا لره هم ستا له لاسه ، خپل ګیلې مانه لیکم
ستا د بېوفا د پټې مینې ، لیونتوب په نوم
ستړې خاطرې مې ، د بیابان د هر مزله لیکم
پام کړه نازولې ، پرې ګومان د تورو ونه کړې
دا رنګین داستان د عشق ، په سرو وینو د زړه لیکم
بس دی چې وي لیک ستا ، ښکلی نوم زما پر زړه پاندې
خیر که دا نامه ستا په نامه ، زه بې نامه لیکم

پټ کې د پښتو ده ، نغښتل شوې پښتنه مینه
دا چې په پښتو پښتني ! راز د پښتانه لیکم

هرڅه چې دي ، پېښ دي ، ماته واړه ستا په مینه کې
بې له دردو غمه ستا ، د مینې نور به څه لیکم ؟

وسپارلم تا دومره ، غمونو او دردونو ته
شرح به د حال ، ستا په حضور له کوم یوه لیکم

بې له درد کړاو مې ، نور په سترګو څه ونه لیدل
ستا نیمګړي عشق کې ، د خپل ځان دا کیسه لیکم

شپه د بیلتانه کې چې ، زما د زړه خبر اخلې
سوز ، ژړا ، فریاد و ، شوګیرونه د لیمه لیکم

ورك مې تصور شو ، په تصویر کې ستا د زور ظلم
نورې سختې سپورې ، او ناخوالې به لا څه لیکم

یو دې استغنا ء بې پروایی ، ناز نخرو وسوم
بل د زړه نارې غلبلې ، ستا له هر بانه لیکم

کاږم دې انځور د ، شوخو سترګو د فتنو ګلې !
نه یمه خبر له ځان ، چې بد لیکم یا ښه لیکم

نوره مې توبه شه ، بې دیدنه ستا له وصل نه
ګوتې مې قلم شه ، که به خواست د سپینې خوله لیکم

هو ، که یوځل وویاړې د ناز په کتو لیك زما
بس دی ستا له خوانه دغه سوال ځواب چې زه لیکم

ته که خپه کیږې پر وینا باندې د زیار نوره ،
اور به د جذبو په اوښکو مړ کړم ، نور به نه لیکم !

غبرګولی ، ۱۳٤۰

د زړه سترګې

اوس له ناز او له مکیزه ، مې دلبر راته نه ګوري
چې شهید یې یو نظر کړم ، بل نظر راته نه ګوري

ما خو عشق کې کړې نه ده ، بې وفا بله خطا
نه پوهیږم د کوم جرم ، په اثر راته نه ګوري

دا زما د زړه په غلا ، باندې پښیمانه غونډې ښکاري
چې لیمو ته یې حیا راځي ، زړور راته نه ګوري

ما د حسن په فرمان یې ، نوکري کړله قبوله
دا له کبره لا په سترګه ، د نوکر راته نه ګوري

دا کمی د التفات یې ، له کمي د محبت دی
که له ډار د غیر غمازو ، چغلګر راته نه ګوري

په رښتیا سره که ویني ، مې د زړه په سترګو زیاره ،
څه سودا کړمه په سترګو ، که د سر راته نه ګوري !

چونګابش ، ٤٠

منم منم

نن دې بیا جوړ کړی ځان منم منم
ستا د حسن هر نښان منم منم

چې سپین مخ دې نیمکښو او بیرته پټ کړې
زړه مې وړې په دغه شان منم منم

په ښایست د زړونو غلا ، بې وفایي کې
نښته سیال دې پر جهان منم منم

که مطلب دې وي زما ازمیښت کړاو
ستا د مینې امتحان منم منم

سر بیالل و تن بیالل و روح بیالل
ستا د نذر په عنوان منم منم

که مې حال ستا د خندا او د پیغور شو
و همدا زما ارمان منم منم

چې زما په مرګ دې وصل کړ اسان
ګرانې ستا دغه احسان منم منم

زیار ته ګران دې یو د مینې هیرول ،
نور په سترګو هر فرمان منم منم !

۲۰ - ۵ - ٤۰

د اوښکو ارزاني

په څه خپه ، هسې له مانه شولې
پر پخوانۍ مينه ، پښيمانه شولې
دا چې دې لاس زما له مينې واخيست
وايه پرما څه بدګومانه شولې
څه به اغيز زما سرې اوښکې وکړي
چې په زړه سخته له سندانه شولې
ما درته اوښکې ننواتې کولې
ته بې پروا ولاړې روانه شولې
هيلې مې زمولې ترمې ترمې ولاړې
ګرانې چې ته نامهربانه شولې

چې جوګه نه شوې د ښښو ښکل يې زياره ،
څومره دې اوښکې نن ارزانه شولې !

وزی ، ٤٠

د مینې اور

بهانه شوه هسې ستا مخ ته کتل مې
له ازله وو تقدیر مینیدل مې
سرې کوکې دې پرما اور دی لګولی
هسې نه دې دا د اوښکو ورول مې
اندیښنه د رسوایۍ مې ستونی بند کړي
چې څوک ووینې بې تانه ژړیدل مې
زړه مې نذر ستا د مخ د زیارت ایښی
که نصیب شي ستا د شونډو ښکلول مې
ستا د مینې له غځ څان ژغورل نه غواړم
خو چې وشي تر تا پورې رسیدل مې
له بیلتونه زیار ته غوره دي زړګیه ،
ستا په مخ کې دار ختل او سا ختل مې !

منی ، ۴۰

د اوښکو ساحل

پس له عمرونو مې شهېۍ ولیده
د هجر شپه کې مې سپوږمۍ ولیده
د زړې مینې پیغلتوب شو نوی
جذبه مې ځان کې د ځوانۍ ولیده
په زړه چاودون کې مې د ګل په رنګه
غوټۍ د هیلو خندنۍ ولیده
ما پرې د تورو زلفو دار چې ښکل کړ
پر هغه شونډو مې خولګۍ ولیده
په شوګیرو مې قدر شپه شوه نصیب
لکه د بدر مې بدرۍ ولیده

ما په ساحل کې بس د اوښکو زیاره ،
د خپل ژوندون ورکه بېړۍ ولیده !

۲۸ - ۸ - ٤٠

د خیال خوب

په احساس د لیونتوب کې ، کله ورك چې له خپل ځان شم
جوړ د خیال په قافله کې، ستا پر لوري در روان شم

د ځوانۍ مستۍ هوس مې ، له ودانې نه بهر کړي
کله مغ پر لوړو غرو ځم ، کله سر بیا پر بیابان شم

له هر کاڼي بوټي پوښتم ، حال د تيرو کاروانونو
کله خلې د سيلۍ شم ، کله خاورې د توپان شم

نه خلاصيږي بيابانونه ، د جنون په لارښوونه
ټوله ورځ مې سرگردانه ، خواروزار ستړی ستومان شم

ډيرې منډې مې پرې باسي ، له مزلونو شمه پاتې
اغزي فرش ، تيږې بالښت کړم ، پناه خواه د مغيلان شم

لکه هير شي له مينوشو ، د نشې درد په خمار کې
هسې زه هم شم بې حاله ، غم نه يو ساعت په امان شم

د نارامه خوب له غيږې ، د بلبلو نغمې واورم
له ځای پاڅيږم پرکاله ، مخ پر لورې د بوستان شم

وي موسم د پسرلي او ، پر گلشن د گلو موج وي
ته غونچې زدې په اوربل کې ، زه درپيښ يو ناگهان شم

سر کړې پورته له گل بوټو ، سا نيولې ودريږې
شي پريشان وربل پرمخ دې ،.ورسره زه هم پريشان شم

په تعظيم او احترام سره ، نږدې درشمه خواته
درنه ځار شم ، سپيلنی شم ، بلا واخلمه قربان شم

ښا و خواته نظر وکړې او ، بیا را ولوېږي مې غېږ ته
کړې چاپېر رانه لاسونه ، ستا په زړه کې هومره ګران شم

هم د ګلو ننداره او ، هم د حسن ننداره وي
ته د ګلو رنګینو ته ، زه ستا حسن ته حیران شم

ستا د ناز هر یو قدم ته ، ښکته کړې مې لیمه دي
ستا د حسن په رکاب کې ، یو پادشاه د کل جهان شم

څومره خوږ وي د خیال خوب چې ، یم له تا سره دلبرې
یو ناڅاپه را بیداره ، په څپېړه د خزان شم

نه ګلشن وي ، نه له زړه ، سره ته غاړه په غاړه ،
د وصال پسرلی تیر وي ، بس د تیرو په ارمان شم !

٤٠ - ٩ - ٢

د مینې سوال

څوک دې بې مانه ، هم شیدا دي که نه
زما په شان ، مین په تا دي که نه
ما خو ریبار نه ، اوریدلي دي څه
وایه ګرانې ، چې رښتیا دي که نه

* * *

وايه په زلفو ، دې نور هم تړلي
زما په شان دې ، بينوا شړلي
ورته دې هيلې ارزوګانې د عشق
د نهيلۍ په تور ښامار خوړلي

* * *

وايه ها شرط چې پر ځای نه کړ بل چا
چې در پوره يې په يو رپ کړم اشنا
ګوندې د سرو تن و روح په بيه
ستا ګران وصلت شي په قسمت کې زما

* * *

کاشکې يو هسې شان دوران راشي
چې وار د عشق ، د امتحان راشي
ور کړمه هسې ، قرباني پر ميدان
چې بوالهوس ته هم ارمان راشي

* * *

پر هغه ورځ لوی افتخار دی زما
چې دې پر عشق باندې اقرار دی زما
دا وروستی ټکی ، ستا له خولې واورمه ،
چې بس رښتينی مين « زيار » دی زما !

٨ - ٩ - ٤٠

گلہ نرۍ :

د مینې انتظار

د ژوند بیړۍ مې ګډه ، ده د مینې پر دریاب
ساحل د امید نشته ، بې د هجر له ګرداب
د زړه له ماته خمه ، یو څو څاڅکي څڅیدلي
د سترګو په کاسو کې مې د سرو اوښکو شراب
د سوز و ساز محفل کې اندیښنې زما نڅیږي
نغمه مې سوې ساندې ، وچ ګوګل لګه رباب
د یار د خیال میلمه ته ، ایله سترګې مې شوې پورته
نغري کې د سینې مې ، کړ ځیګر ورته کباب
عاصي مؤمن ته وایي له دوزخ وروسته جنت دی
د وصل په خاطر به تیروم د عشق عذاب

په دغه انتظار مې ، سا غړیږي لا بدن کې ،
چې واورم له خوږو شونډو ، د مینې خوږ ځواب !

٨ - ١١ - ٤٠

رنګینه ادا

لکه د تورو شپو له غیږې څنې
چې ماسختن سپینه سپوږمۍ شي ښکاره
یا د سرو سپینو ښاپیرو ګډ ایرم
هغه د چا د خیال بدرۍ شي ښکار ه

* * *

هسې د سرو ګلو له باغه څخه
شوه را بهره له نازونو سره
ډکه له نازه او له خیاله مسته
ګډ نازولو ښکلو نجونو سره

* * *

ورنه رخصت شوې نازولې ټولې
په میدان پاتې شوه حیرانه جلۍ
انداز د مینې کې د کور پر لورې
په تراره شوه را روانه جلۍ

* * *

په کنج مکیز شوله نژدې مې خواته
په یو موسکا یې کړ را پورې سور اور
چې یې نظر سره نظر مې شو مست
ژر یې جامونه کړه د سترګو نسکور

* * *

تن مې شو پاتې تش کالبوت ورځنې
یوازې روح شو زما مل ورسره
لکه یو ګرد یې د پښو ښکل په هیله
تال کې د خیال وم تر درشل ورسره

* * *

پنا کیده او مخ یې ماته کړ ستون
دومره یې پوه کړم په رنګینې ادا
که یو قدم کړې بل را پورته زیاره،
شي په لړزا به ستا د مینې دنیا!

شیرشاه مینه، ۲۵ - ۱۱ - ٤۰

د مینې درد

څو مې ښکلی یار غیږې ته را نه شي
درد زما د مینې به دوا نه شي
بې له یارانې هسې ژوندون خو به
وبه شي د بل چا خو زما نه شي
ورځې د خوښۍ وې لاړې تیرې شوې
شپې د اندیښنو به مې سبا نه شي
وز غملې دیرې مې ناخوالې ستا
نور سره رقیبه زما و ستا نه شي
کوم چې ما ساز کړی له خپل سوز ځنې
هسې ساز به بل چیرې پیدا نه شي
سر ته به ونه رسوي مینه څوک
څو یې سر له تن ځنې جلا نه شي
څوک به بریالی نه شي په مینه کې
څو پکې د زیار غونډې رسوا نه شي

نوی ښار ، ٤١

د مینې زبات

وایه که سل جفا مې ستا ، له زړه ایستلي نه وي
ستا پر یوې وفا مې سل ، کتابه کښلي نه وي

وایه قدم دې کله ایښی ، دی پر هغه لاره
چې جارو کړې مې بڼو ، اوښکو مې وللي نه وي

وایه چې تا نیولی غوږ ، کله زما عرض لره
یا ترخې سپورې دې ویلي ، ما زغملي نه وي

وایه چې کله دې پیرزو ، څنې ترخه زهر هم
راکړي دي چې مې ، درو په شانې څښلي نه وي

وایه آ شپه د بیلتانه چې ، دې پوښتلی یمه
وایه آ شپه چې ستا په یاد ، کې مې ژړلي نه وي

وایه آ ورځ چې ستا درگاه ، لره درغلی نه یم
وایه آ ورځ چې دې پر مخ ، زما تړلي نه وي

هله بیا وایه نازولې ، چې دا ستا مینه زیار ،
خو تر وصال او یا تر مرگه ، رسولي نه وي !

۱۳ - ۱ - ٤۱

مینې هیلې

چې د عشق توره کې جوهر مې لا شته
هیله د فتح او د ظفر مې لا شته
چې مې گوزار د چا د ناز خوړلی
څریکې هغسې د پرهر مې لا شته
د زړه په تلو گوگل تش شوی نه دی
پکې غمونه د دلبر مې لا شته

چې اوس هم ګوري سترګو لاندې راته
په اوسيلو کې څه اثر مې لا شته
د عنقا سوري ته اړتيا نه لرم
د خپلې مينې تاج پر سر مې لا شته
چې د هوس جامې پرې وسوزوم
پټ تر ايرولاندې شرر مې لا شته
څه که د زړه پر کور ماښام دی زما
د اميدونو روڼ سحر مې لا شته
چې ځان پناه کړم د صياد له سترګو
دومره قوت د مات وزر مې لا شته
د ښکلي مخ د ننداری لپاره
تاب په ليمو کې د نظر مې لا شته
چې دی اخر يې د غمونو اخير
پر هغه لار باندې سفر مې لا شته
د هجر شپه کې د يار ياد مې بيايي
خوښ يم په دې څوک د خبر مې لا شته
دا چې منزل خواته ډاډه ږدم قدم
صدق وصفا مخکې رهبر مې لا شته
که څه هم ښکاري شاخ د عمر مې ښند
له ځانه تمه د ثمر مې لا شته

اخر په مينه کې به رنګ شم زياره،
فوران د وينو د ځيګر مې لا شته!

٤ - ٥ - ٤١

رسوایي

ځلند مخ سره مې ستا چې اشنایي شوه
د ژوندون پر تیاره کور مې رڼایي شوه
شوې بینا خو مې د زړه سترګې له واره
که مې ورکه د سر سترګو بینایي شوه
چې بېنیازیې د بینیازو له درګاه کړم
نصیب ما ته ستا د مینې ګدایي شوه
بېلتانه کې مې وصال هومره خوند ولید
څه پروا که په کلونو جدایي شوه
د هوس ګړنګ ته وم نژدې ولیدلی
رهنما مې دغه ستا بې پروایي شوه
ایله سترګې مې مړې شولې په حسن
دا چې مینه هر ځایي وه یو ځایي شوه

څه رنګین غوندې انجام به دې وي زیاره ،
چې اغاز نه دې لا مخکې رسوایي شوه !

شیر شاه مینه ، ۱۸ – ۵ – ٤۱

سترګې پر لار

یاد مې پر زړه سهار ماښام د ښکلې
یم په ارمان د ناز خرام د ښکلې
سترګې پر لار یې د راتلو په هیله
په انتظار کې یم نارام د ښکلې
په دې اسره چې زړه مې ښکیل شي پکې
زما دی خوښ د زلفو دام د ښکلې
تر دې نه لوړ مقام به چیرې وي بل
چې شم په مینه کې بدنام د ښکلې
د هغه چا له سترګو وګرځمه
چې یې له خولې اورم خوږ نام د ښکلې
لیمه دې دواړه ورته فرش کړه زیاره ،
ربیار راځي ، راوړي پیغام د ښکلې !

۱۰ - ۸ - ٤۱

د اشنا په سترګو

که اشنا پل کیږدي زما په سترګو
ښکل به یې کړمه د وفا په سترګو
چې لګیدلې یې په سترګو - سترګی
رقیب ته ګورم د اشنا په سترګو

هله په ما وشوې کانې د مجنون
چې مې نظر شو د لیلی په سترګو

د پټې مینې مینتوب په سلا
غلې مې څاري د حیا په سترګو

لکه چې کړې مې ګناه وي د عشق
ټول راته ګوري د رسوا په سترګو

د سترګو تور نه دی نو څه دی اشنا
چې یم له هجر یې نابینا په سترګو

د زړګي کور مې مایوسی کړ تورتم
هیڅ مې ونه لیده رڼا په سترګو

چې یې له سترګو غورځولی یمه
درګاه ته وربه شم د چا په سترګو

دا مې ارمان د زخمي زړه دی زیاره ،
چې تیر ساعت ووینم بیا په سترګو !

۲٤ - ۸ - ٤۱

د مینې میکده

بس دی هومره زور و ظلم ، یه لیلا را سره مه کړه
د ظالم رقیب په خیر ، جور و جفا را سره مه کړه
چې اشنا یم اشنا ! ماته ، د اشنا په سترګو ګوره
اشنایۍ کې چل و ول ، د نا اشنا را سره مه کړه
ستا د حسن پر بازار مې شوه ، عمري د عشق سودا
د یوې ورځې لپاره ، دا سودا را سره مه کړه
چې د ښکلو دین وفا کړه ناروا ، جفا روا
که روا پر ما روا لرې ، روا را سره مه کړه
ماته ګران دي پرېښوول ، د ګرانې مینې په ناصحه !
نور که هرڅه وایې وایه ، دا وینا را سره مه کړه
چې د مینې میکده کې مجاور شولمه زیاره ،
اوس خبرې د ایمان ، زهد و تقویٰ را سره مه کړه !

۱۴ - ۹ - ٤۱

گلبه نږۍ :

د هیلو مزار

یه زړګیه څو به غم د بې وفا لیلا کې ژاړې !
لیونو غوندې مدام به په میرو بیدیا کې ژاړې
چې پر مخ ستا د بې وزلو ارمانونو تول شوې
د وصال په اسره هسې لا هغه درګا کې ژاړې
لکه وریځ چې په موسکا کېږد برېښنا په ژړا سر شي
داسې ته هم له ډیر غمه په خندا خندا کې ژاړې
تول اغزي دي ګلان نشته ، چې شبنم یې شي ستا اوښکې
تش په تشه تمنا خوشې سبا سبا کې ژاړې
تازه باغ دې د ځوانۍ کړ د خزان سیلیو مراوی
نیمه خوا هغه بلبل یې چې د ګل سودا کې ژاړې
د مظلوم احساس سلګۍ دې چې خپل مرګ ته پلمه کېږي
وایه چاته د دې ظلم و بې غورۍ دنیا کې ژاړې
دغه سوز و ویلیدا دې بې حاصل دي مجاوره ،
لکه شمه چې د هیلو د مزار په خوا کې ژاړې !

مرغومی ، ٤١

اورين عشق

د عشق څپو اخيستی ، توفانو باندې مې سر دی
د هيلو بيړۍ ماته ، خطا کړی مې ګودر دی

لار ورکې تلوسې مې ، دې لوټ کړې نهيليو
بيابان د انتظار کې ، لالهنده مې نظر دی

ما ويل چې پکې ګل به ، شي زما د هيلو څانګه
د هغه باغ له وربويه ، د بلبلو نن سفر دی

په لاس کې د صياد مې ، فيصله د مرګ و ژوند شوه
ښکار شوی يو مرغه يم ، مات شوی مې وزر دی

بل څه نه دي بې وينو ، د شهيدو ارزوګانو
د سترګو له چينو مې ، چې د اوښکو سيلاب سر دی
چې ځان او هم جهان پرې ، له يو مخې سره لمبه کړم
مړ شوی په خوګلن کې ، مې د زړه هغه شرر دی
زړه چاودې تمنا مې ، د وصال نامرادي ژاړي
لوګی د اسويلو مې ، د اورين عشق اثر دی
چې سترګې مې رڼې پرې ، د شوګيرو ارمانو شي
په شپه د بيلتانه کې ، رانه ورک هغه سحر دی
همدومره بس دی زيار ته ، له دا ستا ناکامې مينې ،
چې نور د مرګ په هيله ، له ژوندونه لاس په سر دی !

نوی ښار ، ١٦ - ٢ - ٤٢

گډه نړۍ :

تیرې خاطرې

په ژړا ژړا مې سترګې دي د یار له غمه سرې نن
د بیلتون په تیره تیغ مې دی زړګی زرې زرې نن
چې شفق مې د اسمان دی له سرو اوښکو رنګ اخیستی
ځکه وینې د ځیګر مې کا له سترګو فوارې نن

سوو ساندو غلبلو زما د میني ساز تود کړی
دي د غم په نښا ګلې مې د مات زړګي اسرې نن
چې سلګۍ د اندیښنو مې نورې ستوني کې وچیري
له ناکامه مې سا الوڅی د تن له پنجرې نن
پلوشې چې د ښکلا یې تل پر ما را تویدلې
شومه هسې بې نصیب د هغه مخ له ننداري نن
د سوزونو ، کړاوونو ، نهیلیو له غباره
په فضا کي د احساس مې تورې لړې دي خوري نن
سره لمبه به له خپل سوزه څنګه نه اخلمه زیاره ،
چې مې ګرځي پر زړه باندې هغه تیرې خاطرې نن !

نوی ښار ، ۱۱ - ۱۱ - ٤١

گډه نړۍ :

د محفل شمعه

لکه ښکلا غمونه ژاړي
هسې رنګه مې وفا هم د جفا غمونه ژاړي
زار زهير ليونی زړه مې په ميرو د بيلتانه کې
په سرو سترګو له حسرته د ليلا غمونه ژاړي

د مین زړګي پر کور مې دي د ویر غلبلې ګڼې
ارمانونه مې پر مرګ د تمنا غمونه ژاړي
د اشنا په محبت کې کړاوونه مې که مله شول
فیصلې مې د قسمت اوس د قضا غمونه ژاړي
غولوم په نا انجامو وعدو هسې انتظار مې
تلوسې مې شوګیرې کړي د سبا غمونه ژاړي
اندیښنو د مستقبل کې ماضي حال راځنې ورك دي
ابتداء د نامعلومې انتها غمونه ژاړي
د یوه درد په احساس کې نور دردونه را په زړه شول
عالم ګیزه مې شوه مینه د دنیا غمونه ژاړي
زیار قبول د مینې سوز کړ چې محفل لره شي شمعه،
څه شول هسې ښکاره که د اشنا غمونه ژاړي!

۱۱ - ۱۱ - ٤۱

ناکامه مینه

یه زما پریشان زړگیه ، وي پریشان و پریشان ومره
چې دې مینه شوه ناکامه ، په همدغه ارمان ومره
د سپرلي له رنګینیو که دا نور زړونه خوند اخلي
پرتا هسې لا خزان دی ، له دې غم د خزان ومره
د رنګین سهار په تمه ، د تورتمو شپو په غیږ کې
ډیر دې تیر کړه شوګیرونه ، نورله یاس وحرمان ومره
چې پرې درد نه درملیږي د یوه درمنده زړه هم
د یوه دردمن پر ځای هسې نور سل بې درمان ومره

چې دې نوم د مینې پاتې پس له مرګه شي زیاره ،
راشه لاره کې د مینې د خپل ښکلي جانان ومره !

کب ، ٤١

د چا یاد

اندېښنې تلوسې مې ځوروي بیا
تیرې هیرې خاطرې را یادوي بیا
ژړوي هسې د مینې بیوسي مې
بیا درېږي زخمي زړه ته مایوسي مې

بیا پرزړه مې د عشق سرې لمبې بلیږي
پرې مې سوي د غمونو تازه کیږي
بیا زخمونه د ځیګر مې وهي څرېکې
تیر یادونه پکې باسي د غم لیکې
بیا مې هیلې د ژوندون غمونه ژاړي
را سپړي مې د غوڅ شوي زړګي نواړي
بیا مې لګي د امید په سرو ګلونو
یو سوړ باد د ارمانونو حسرتونو
بیا لیمو کې مې ورو ورو اوښکې ډنډیږي
یو اشنا غوندې تصویر پکې ځلیږي

وینم بیا د خیال آینه کې بانه وروځې،
تیره غشي مې د زړه له غوښو وځي!

تله ، ۱۳٤۲

گله نړۍ :

سوز و ساز

لکه په وربخ کې چې پټ لمر ځلېږي
تورو جامو کې سپین بشر ځلېږي
خپلې سرې اوښکې جام د جم شو راته
پکې ښیره مې د دلبر ځلېږي

څنگه به پټ کړي شهادت مې قاتل
سور مې په وینو لا تتر ځلیږي
د زړه نغرۍ مې سړېدلای نه شي
په دې خوګلن کې لا شرر ځلیږي
د نهیلۍ لښکر به مات نه کړي ما
د عشق په تیغ کې مې جوهر ځلیږي
تپو تیارو د ناکام ژوند کې زما
د امیدونو روڼ سحر ځلیږي
خود به مې تخت د حسن پښو لاندې وي
چې مې د مینې تاج پر سر ځلیږي
په دې خاورین تیاره ماحول کې مې
د نوراني دنیا اثر ځلیږي

د پاك سپیڅلي عشق تابلو ده زیاره ،
که سوز و ساز کې مې هنر ځلیږي !

لینډۍ ، ٤٢

گډه نړۍ :

رنګین تصور

کرشمې دا ستا ، د سترګو په نڅا کې دي ویدې
که نشې هسې بې هوشه په صهبا کې دي ویدې
بې څه نه دي ستا د مینې دا خوازه کتل
سل فتنې دي په هر ناز او په ادا کې دي ویدې

دغه هم ستا د مینو ولولو ده یوه نښه
غلې غلې اشارې دې چې حیا کې دي ویدې
نور مې خوب و ارام نشته د هجر توره شپه کې
بس یو هیلې مې د وصل تمنا کې دي ویدې
ستا د تورو زلفو ولو کې که تقدیر مې څو بندي
فیصلې هم ستا د حسن په قضا کې دي ویدې
د شوګیرو اوښکو رود مې که پر مخ باندې بهیږي
تلوسې مې ستا د سترګو په سودا کې دي ویدې
اوریدلی یې جرس د بیدارۍ نه دی که څه ؟
قافلې چې د احساس مې په سبا کې دي ویدې
ما به وخته لا لوټلې وای متاع د عقل و هوش
ولولې د لیونتوب مې په بیدیا کې دي ویدې
دا مې زړه کې غځونې کړي رنګین تصور ستا ،
رنګینۍ د تخیل مې که وینا کې دي ویدې !

۱۹۰ - ۱۱ - ٤۲

د هیلو قافلې

نن مې د هیلو قافلې راځي
د زړه حرم ته مې لیلې راځي
«زمانې نور مې ستا ترخو ته سلام»
نن پر ما نوې مرحلې راځي
د ژوندانه خاورین ماحول ته مې
د اسماني حسن شغلې راځي
خمار د هجر مې له سره درومي
چې مې تر غوږ کړنګ د پیالې راځي
دانه وانه لکه ما تړی‌شي د سرو
چې د شهو پر مخ خولې راځي
چې مرور یار شو پخلا را سره
خود د رقیب خولې ته ګیلې راځي
وصل کم نه کړ پر ما قدر د عشق ،
زیاره لا خوږ نوم یې پر خولې راځي !

تله ، ۴۳

د افغان په نوم

روس و چین که امریکا وه ، که ایران و پاکستان

جوړ وطن یې کړ را وران

که عرب و که عجم و که کافر و مسلمان

جوړ وطن یې کړ را وران

* * *

چاته ولاړ شم چاته وژاړم له دې ناتار و غمه

له دا هسې ویر ماتمه

څه به وایم چې د چا،برخه وه دېره د چا کمه

له دا هسې ویر ماتمه

وهابي ، شیعه ، سني و ، کمونیست و که اخوان

جوړ وطن یې کړ را وران

* * *

هم په اور و هم په وینو ، هم په مرگ او هم په ژوبله

واچوو یې سره وبله

کار یې واخیست له وسلې او له ریال دالرو روبله

واچوو یې سره وبله

چې نور نه شي په هیڅ توگه یې څه چاره او درمان

جوړ وطن یې کړ را وران

* * *

یو پر بل یې ووژلو ، یو پر بل یې کړو تباه

په گناه او نه گناه

اوس که درومو په ستنه ورته ، په ویره او په تراه

په گناه او نه گناه

په مینونو که الوځو ، ورته یو اریان دریان

جوړ وطن یې کړ را وران

* * *

تر پرون مو که جهاد کړ ، یو پر بل کړو نن بریدونه

څو لرو وسلتونونه

پاتې نښې مو د ژوند ورو ، دي پر سمه که پر غرونه

خو لرو وسلتونونه

که يې مخکې جنګولو ، اوس يې پرېښووه پر ميدان

جوړ وطن يې کړ را وران

* * *

خدای لپاره راشئ نوره د مسلمان په نوم را ټول شئ

د افغان په نوم را ټول شئ

زه او ته او هغه پرېږدئ ، د انسان په نوم را ټول شئ

د افغان په نوم را ټول شئ

چې ورکېږي د نړۍ له نقشې نور افغانستان

جوړ وطن يې کړ را وران !

* * *

روس و چين که امريکا وه ، که ايران و پاکستان

جوړ وطن يې کړ را وران

که عرب و که عجم وه که کافر و مسلمان

جوړ وطن يې کړ را وران !

فقير کلی ، ۷ - ۱۲ - ۹۲

منصوري مینه

د هغه ظالم غليم شه ، سروتن توتې توتې
چې زمايې کړ د مينې ، انجمن توتې توتې
لکه څنگه يې چې زه کړم ، په دوستۍ دوستۍ کې ژوبل
هسې مه شه څوك په جنگ کې ، د دښمن توتې توتې
له څراغ مخ چورليدل يې ، چې شپه ورځ لکه اورپښتې
اوس په وره کې يې پراته دي مړ څپن توتې توتې
شوې پرمخ مې هسې رنگه ، تکې سرې اوښکې راماتې
ته به وايې سره ياقوت شول ، د يمن توتې توتې
دا شين زړه يې راتوتې کړ د جفا په کانو هسې
لکه کانې د رنجو شي ، پر درغن توتې توتې

سر پرېکړي ګل بلبل که ، ځنې ولاړل لاس پر سر شول
سبروني هم شمشاد شول ، د چمن توټې توټې

چې په کمه سترګه ګوري به ، زما د مينې بوم ته
آ بدورد دې شي په خير ، د اهريمن توټې توټې

د امين فرهادي روح خو به ، ونه شي را وژلای
څه که کړي مې خسروان د وخت ، بدن توټې توټې

شي به زباته مې په متې ، منصوري مينه هرچاته
چې په متو د ايمان کړم ، دار رسن توټې توټې

شه پر دوارو جهانو بې ، دوارو خواوو ته مخ تور
چې مې غواړي ، ښايسته ښکلی ، وطن توټې توټې

په دې هيله ووينې چې ، خپل هيواد سيال له جهانه ،
زيار دی کړی څو څو ځله ، خپل کفن توټې توټې !

پيښور ، ۱۷ - ۳ - ۹۳

د عرفان د مينې مې

جل وهلي سرې شيبې د پسرلي لکه باران څښم
هر هرڅاڅکی څاڅکی تنده ، د هر وچ رغځي ، بيابان څښم
ټوله شپه پرې ورونم خو ، چې سهار او بيا لمر ځوك شي
ستوري اوښکې مې په جام کې ، د سپوږمۍ لکه اسمان څښم
ما د ميو پيمانې ، لکه توبې کړې ډېرې ماتې
څه که نن بې بيا بيواره ، پيمانه کې د پيمان څښم
ما به څکه کړې نه وای ، په جنت کې هم د ميو
خو په پار يې د ميګونو ، سرکو شونډو د جانان څښم
ازمونونو د زمان کړم ، له خپل ځان دومره بيځانه
چې د دهر په کاسو کې ، اوس خواږه تراخه يو شان څښم

ګونديږ هسې کسات واخلم ، د وختونو له ناخوالو
د دور ونو پر هر دور به ، چې له دوره د دوران څښم
میکدې دي نړېدلې ، هره خوا ماتمکدې دي
ستا د سترګو په څو خوب کې ، زهروبونه د زمان څښم
که هرڅو له زغمه وتې ، ستغې سپورې د رقیب ستا
خو په جام کې ستا د یاد به د شودو شهدو په شان څښم
دا څه کودې او جادو وو ، په راکښون ستا د ښکلا کې
چې دا ستا د مینې لار کې ، هر یو درد لکه درمان څښم
ته که تللې له ما وخته ، زه دې خیال کې لا مدهوش یم
جوړ په پینو کې د وروځو ، دې غمونه د هجران څښم
« چې هرتاك به ور روزلی ، دی د خپل زړګي په وینو
د انګورو څوښا نه ده ، دا سرې وینې د باغوان څښم »
هسې زړه پرې غولوم چې ، دا نګه ارغواني دي
د غاټول په کټوري کې ، وینې سرې د ارغوان څښم
نه تیریږي به مې څکه ، د دنیا خواږه تر ستوني
تل تروې اوبه د سترګو ، سمندر له مست څپان څښم
دا خو ټوله یوه سره وینه ، په رګونو کې چلیږي
که په وینې ځیناك د نورو ، زه تل وینې د خپل ځان څښم
څکه بولي لیونی مې ، لوی واړه د ټول جهان به
چې یوازې په یوه سر ، اندیښنې د ټول جهان څښم
تل د میو په پیالو کې ، خو شاهانو زهر راکړل ،
د عرفان د مینې می نور ، د ملنګ عبدالرحمان څښم !

پیښور ، ۳ - ٤ - ۹۳

د لاهور هور

هسې مې زړه ستا د ليدو په انتظار ويلې شي
لکه چې موم له ډېره تاوه د انګار ويلې شي
ويليږم ستا د بيلتانه د تورو شپو په زړه کې
لکه چې شمه ځانته ګوښې پر مزار ويلې شي
د څنو شپول دې د سپين مخ له پلوشو اور اخلي
لکه شپيني تياري د لمر په څرك سهار ويلې شي
راغارې وځي راته ښکلې له دې ويرې نه ، نه
چې به يې زما له تودې غيږې ، د سرو هار ويلې شي
شي لارې لارې يې پرمخ اوښکې راماتې هسې
ته واکنګل واورې د ژمي پر بهار ويلې شي
هور دی لا « هور » بيخي سور هور دی « لاهور »
چې سرکونه يې سپولي کې لا د ښار ويلې شي
له غلو غشو به هغه چاندي راووځي هله ،
چې د زمان په سره بټۍ کې لکه زيار ويلې شي !

لاهور ، ١١ - ٤ - ٩٣

ستا غم

د وختونو دا ناخوالې به زغمم څو
ځانته دار به پر اوږو خپل لېږدوم څو
راته کور کلي کوڅې شوې اور و وېنې
پرې به نيز د اوښکو وېنو وروم څو
د تاريخ د تورو شپو له لاروېو
پر سر خاورې د خوارۍ به بادوم څو
تور لېوان مې را يرغالې پر کهليو
بې توپيره به پرې سترګې پټوم څو
را بلوسې پر ګلکځو سمندري غله
د توپان مرغه په ځير به پرې ورتم څو

مخ دې تور شي د سپين ږمرو طاغوتيانو

ګرځوي راته جهان به جهنم څو

چې له ښاخه باندې کيږدي خيرن پلونه

خپل لېمه ورته په لار کې به کرم څو

دا خپل ژوند را باندې بار لکه هابېل شو

قابېل وزمه يې پر ښا به ګرځوم څو

له رګ رګ د زخمي تاکو څڅيدلي

هسې مى به په کاسه کې د سر څښم څو

د کوبي غونډې به ځان سپارم څپان ته

دا خپل ژوند به د شيبو پر ولو وړم څو

ښکېل د دوو پلو ترمنځه يم د ژرندې

پکې دل به يم اوړه اوړه لکه غنم څو

چې هرګام يې دى له مرګ سره تړلى

هغه تورې کږې لارې به نغاړم څو

دا د ځمکې له خدايانو به تر عرشه

غږيو نيولي فريادونه رسوم څو

په اسره د ښکلونګ د ژغور غوټيو

لکه پرخه تر سهار به شپه رونم څو

د يادونو پر بلهارو هديرو به

مړې ديوې د نهيليو بلوم څو

دا چې رنګ اخلي زما د زړه له وينو ،

په قلم د شعر به ستا غم انځورم څو !

کابل ، ۳ - ٤ - ۱۳۷۲

گلباران

راغی مې غېږې ته جانان لکه گل
په خوله خندان ، په زړه پرېشان لکه گل
راغله پرمخ ، عطر افشان لکه گل
کړې کړې پرمخ زلفان لکه گل
که وم زرغون پر گلستان لکه گل
ورژېدم پر وچ بيابان لکه گل
څه که ځواني مې شوه خزان لکه گل
ښايست خو شوم ستا د گرېوان لکه گل
چې دې په گلو کې مخې نه وينم
نو دې شم گل مخ ته حيران لکه گل
موسکې موسکې چې راته گل غوندې شې
شي مې تر پامه ټول جهان لکه گل
چې گلالي گلالي گوري راته
کړي به مې لنډ د ژوند دوران لکه گل
که به زما په دعا کېږي گلې !
« ته دې گل اوسې ، نه دې هان لکه گل »

دا ستا په سر د گلباران په پلمه
ما ترمې ترمې کړ خپل ځان لکه گل
ته مې گڼې د خپلو سترگو اغزی
زه رژم پښو کې دې په شان لکه گل
پتنگ ته اور ، بلبل ته گل ده مینه
څه که خلیل ته شو نیران لکه گل
شوم چې د شپې د سترگو نم ، نو راته
وخندل ستورو د اسمان لکه گل
ډیر پسرلي سترگې پر لار دي راته
څه که کړم زمول د وخت خزان لکه گل
د ملیارۍ منت به څه وړم د چا ؟
پایم د اوښکو په باران لکه گل
بې له جلبله به نور څه ولري
دا د پلاستیك ، کاغذ گلان لکه گل
لږه خو سا واخله د مرگ پاڼیږه !
څو رازمولې ښکلې یاران لکه گل
په تالا بڼ کې مې د مینې کاشکې
واشي غوټۍ غوټۍ ارمان لکه گل
خدای مه کړه ، ورك شي د نړۍ له نقشې :
زما ښایسته افغانستان لکه گل !

باړه گلۍ ، ۹ - ۹ - ۹۳

(په مشاعره کې له غازي سیال ، نور شاه جهان انورختك او کاروان پرته نورو قافیه پلمه کړه !)

د شيبو ليږد

شنې شيبې د پسرلي له ، گلستان په ليږدېدو دي
شنه توتيان ، تورې بلبلې ، له خزان په ليږدېدو دي
په دې هيله گوندې گل شوې ، د چا سبکلي تور وربل ته
آنامرادې زمول غوټۍ،نن ، له بوستان په ليږدېدو دي
د بې نياو ماليار له لاس ، به بې په باغ کې څه ټيکاو وي
په زړه داغ لاله پر لوري ، د بيابان په ليږدېدو دي
دا راکښون د زليخا ، د پاکې مينې نه دی څه دی
د يعقوب د سترگو تور چې ، له کنعان په ليږدېدو دي
د وحشت په گور ځنگله کې ، رانه ورك شول منزلونه
هره خوا مې تکلونه ، د ارمان په ليږدېدو دي

دا زما د برم له خوله ، سره لالونه راتویږي
چې مې اوښکې له لیمو نه ، په ګرېوان په لیږدېدو دي
په لرزا به څنګه نه وي ، درست پیکر د ایشیا
چې له زړه نه یې ارام ، امن وامان په لیږدېدو دي
که پوما دې څمکه سره کړه ، دې جفاوو ، ناروااوو
خو دا ستا هم د بخت ستوري ، له اسمان په لیږدېدو دي
آتلپاتې بوم پوتم مې ، تاریخ نه شي هیرولای
څه که اوس له حافظې نه ، د زمان په لیږدېدو دي
بلهاري زما هستي لکه منصور ابدي کړي
چا ویل چې مې له دهره ، نوم نښان په لیږدېدو دي
چې لیدل یې پر بستر د ، تورو وریځو شنه خوبونه
آ د تورو تیارو لارو ، لارویان په لیږدېدو دي
خپلو ځالو ته چې تللي ګور بتان بیا راستانه شي
نن سبا مې له چمنه ، تور کارغان په لیږدېدو دي
چې بیا سپینو رڼو ورځو ، ته ترغاړې وځي زیاره ،
توري شپې دي له سبایسته ، افغانستان په لیږدېدو دي !

پیښور ، ۱۹ - ۱۰ - ۹۳

ستورین وږي

دا مې بڼ له خزان ړنګ
که په لاس د ډاغوان ړنګ
دا د چا له اسویلو مې
ترمې ترمې ګلان ړنګ
له ګلڅانګې مې د مینې
ګلغوټۍ د ارمان ړنګ
دا څرمنې دي که منې ،
چې مې باغ و بوستان ړنګ ؟
را زرغون مې له سرو وینو
سره غاټول پر دامان ړنګ

PROPERTY OF ACKU 6101

پرې جړاو د پټ لمنې
آ سمسور ارغوان رڼي
گلکښونه د ښایست مې
څه تنکي تاند لبان رڼي
گلبڼونه مې د هیلو
د وختو له توپان رڼي
ستورین وږي د برخلیك مې
پر ورشو د اسمان رڼي
د اور وینو له ناتار مې
سم و غر و بیابان رڼي

نه چې بیا د برم له خول مې ،
سره یاقوت و مرجان رڼي !

کابل ، ٤ - ١٠ - ٧٢

پوهاند دوکتور زیار او اثار یې :

زوکړه : ۱۳۱۴ ل (۱۹۳۷ م) ، حصارك - مزینه - ننگرهار .
زده کړه : حصارك ، کابل ، سویس (د پوهنو دوکتورا ، دیفل) .
دنده : د کابل پوهنتون د پښتو ژبپوهنې او ادبپوهنې استاد .
نورچاپ اثار : پښتو ویي پوهنه ، پښتو پښویه (گرامر) ، پښتو لیکلار ، پښتو شعر څنگه جوړیږي ؟ ، زنداني نغمې ، وینه او مینه ، اندو ژوند ، سوزونه او سازونه ، گلکڅونه ، گلولې ، پښتو نوموالترنگونه (په المانې) ، پښتانه او ورونه ملیتونه (ژباړه) ، د کنیشکا د سره کوتل ډبرلیك (ژباړه) ، د سبر ونو نڅا ، گلوییونه ، رزم و بزم .

بیه : ۲۰ روپۍ = ۲۵۰ افغانۍ
پلورځي : وحید سوداگر (قصه خواني)
سید محمد کونړی
او عبدالمجید (جلال آباد)

د علامه سید جمال الدین افغان فرهنگي ټولنه ۵